# مه غوسه کېږه

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي، قَالَ: «لَا تَغْضَبْ» فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ: «لَا تَغْضَبْ». يو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل چې وصيت راته وکړه، هغه وفرمايل: « مه غوسه کېږه » هغه څو ځله تکرار کړه، ويې فرمايل: "مه غوسه کېږه".

[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

يو صحابي - رضی الله عنه - له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې هغه ته د داسې يو څه لارښوونه وکړي چې ګټه ورته رسوي، نو هغه ته يې امر وکړ چې غصه مه کوه، يعنې له هغو اسبابو څخه ځان وساته چې د غصې لامل ګرځي، او دا چې د غوصې پر مهال ځان کنټرول کړي، او په وژلو، وهلو، سپکاوي او داسې نورو سره دې خپل قهر ته دوام نه ورکوي. سړي په تکراري ډول د وصيت غوښتنه وکړه، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته په وصيت کې له "غصه مه کوه". څخه اضافه نه کړل".

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4709